مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

پوهندوی آصف بهاند ۲۰۲۰/۱۲/۱۸

# لنډۍ، د ثبتولو ستونزه

## پنځه ځلوېښتمه برخه

د چا چې خپله مینه نه وي
مین يې مه کړي د ملا په تعويذونه

تر وني دنګ لالی مي مړ دی
چې چېرته دنګه ونه وینم زړه مي چوینه

د تور توپکو استاکاره!
د ښو ځوانانو خون به ستا تر غاړې وینه

چې بې ګناه مرګونه ډیر شول
جانان ته وايه چې وختي کورته راځينه

په لنډيو کي تصوير جوړونه يوه مهمه مسأله ده. که لنډۍ د شکل يا بني له مخي سمه وي، يعني د لنډۍ د دواړو بيتونو نهه او ديارلس سيلابونه پوره وي او د انځور او تخيل په کي ځه نه وي، نو لنډۍ به هسې د بني يا شکل له مخي موجوده وي، خو کوم خوند او تاثير به په کي نه وي.

د غه راز ځيني ښاغلي داسي نظر لري چي:

«لنډۍ شعر دی؛ اصلي توکي يې تخيل، عاطفه، موسيقي، شکل، ژبه او فکر دي. د شعر اصلي توکو ته په پام سره، پر لنډيو خورا جالب بحثونه کېدلی شي.
زموږ په ادب تيوريو کي لنډۍ دا ده، چي لومړی بيت يې نهه او دويم يې ديارلس څپې وي.

د دي لاندي لنډۍ بيتونه هم نهه او ديارلس دي؛ خو د شعر څه دي پکي؟

نه به د زېړي غوا ميړمن شم
نه به په لوړو بامو وموښم ځګونه»


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولــئ

نو د دې په خاطر په لنډیو کې د شکل تر ښنګ تخیل، عاطفه او انځور جوړونه ډېره مهمه ده او همدا توکي دي چې د لنډۍ د تلپاتې کېدو لامل کېږي او د خلکو په ورځني ژوند کې بیا ـ بیا تکرارېږي.

د لنډیو په باب دا یو منل شوی حقیقت دی چې:

لنډۍ په پیل کې د یو تن د احساس زېږنده وي، د ټولنیز ژوند په اوږدو کې نور خلک د خپل ژوند خواږه او ترخه ورباندې ورزیاتوي او څه کموني هم ورنه کوي، د اوږدې پروسې له تېریدو نه وروسته یا منل کېږي او یا له خولونه لوېږي. په دې پروسه کې داسې لنډۍ هم رامنځته شوي دي چې له تخلیق نه ډېره لږه موده وروسته، له چاپېریال او غوښتنو سره د نه مطابقت په وجه له منځه تللې دي، خو د تاریخ له اوږدوځخه داسې لنډۍ هم راپاتې دي چې د تیرو نسلونو د زړه غږ یې په هنرمندانه ډول تر نن پورې رارسولای دی.

د دې برخې د ښه پای له پاره مې دا لنډۍ راټولې کړې دي:

**تر ونې دنګ لالی مې مړ دی**
**چې چېرته دنګه ونه وینم زړه مې چوینه**

**عالمه! بیا ژمی نیږدې شو**
**څوک به ټوخیږي څوک به پوزه پاکوینه**

**د خزان پاڼه دې کړم خدایه!**
**که باد را والوت ما به کوم ګرنګ ته وړینه**

**د تور توپکو استاکاره!**
**د ښو ځوانانو خون به ستا تر غاړې وینه**

**چې بې ګناه مرګونه ډیر شول**
**جانان ته وایه چې وختي کورته راځینه**

**موږ ه په هرنامه قتلېږو**
**دتابوتونو بازار ګرم دی مینه**

**خدایه! ډیورنډ په سیلاب یوسې**
**چې روژه ماتی د کابل په اذان شینه!**

**بازار مې ډیر تر پامه بد شو**
**د غلو له لاسه مبایل نه ګرځومه**

**د چا چې خپله مینه نه وي**
**مین یې مه کړې د ملا په تعویذونه**

**سپوږمۍ راګوري غلې، غلې**
**انګبرم داسې چې کوي اشارتونه**

**جنت ګڼلیه، اشنا راشه!**
**د تا وژلي، ماشوم غواړي خیراتونه**

**وړه یې ورکړم، لویه نه شوم**
**زما ازار به د رببار پر غاړه وینه**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

**که به مې یو ساعت هېرېږي**
**زما دې هېر شي دا لوستلي کتابونه**

**د بد مرغۍ اړخونه ډېر دي**
**زړه مې نازک دی، زه به کوم ته وژاړمه**

**پیغلې په خپل وطن زړې شوې**
**ځوانان زاړه شول په پردیو وطنونه**

**خدایه د هیلې ځای مې نشته**
**منګی به واخلم په ګودر به وژاړمه**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په ځیر و لولـئ